مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۹/۰۵

# پړانګ

پړانګ، نن ډېر وږی دی
پړانګ ته له دریو ورځو راهیسي ښکار په لاس نه دی ورغلی

وږی پړانګ په ښکار پسي راوتلی دی.

له یوې خوا د لوږې اور، بلې خواته د نه خوړو کمزوري

عجیبه حالت دی؟

د پړانګ مخ ته دغوایانو ګله ( ډله ) راورسیده

پړانګ دوه، درې ځله برید ته چمتو سو

خو بیرته یې زړه راټول کړ

پړانګ وږی دی، لېکن پر غویانو برید نه سي کولای

غویان یوځای ګرځي

غویان په سختۍ کي د یو اوبل ملا تړي

د پړانګ لوږه نوره هم زیاته سوه
د پړانګ په نس کي  اور بل دی

هلته لېرې په شنو وښو کي د هوسیانو رمه څري

د هوسیانو غوښي نازکي دي

د هوسیانو غوښي( شېریني ) دي

د هوسۍ غوښو ته د پړانګ خولې اوبه وکړې

پړانګ بېله ځنډه د رمي خواته رهي سو

پړانګ غلی غلی د هوسیانو خواته روان دی

پړانګ د هوسیانو خواته نژدې سو

هوسیانو پړانګ ولیدی

پړانګ د هوسیانو پر رمي برېد وکړ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

یوه هوسۍ یوې، یوه بلې او بله بلې خواته ځغلي

هره هوسۍ یوازې د ځان غم کوي

دوی ټولې سره بېلې سوې

کوچني کبلیان نارې وهي

پړانګ ډېر تېز سو، داسې تېز سو، چې تراوسه یې دومره نه و ځغستلي

هغه دی، دغه دی، یوه هوسۍ یې راتینګه کړه

پړانګ د هوسۍ په غاړه غاښونه ښخ کړل

د هوسۍ له ډېرې نفستنګۍ تر سترګو وینې راغلې

د هوسۍ زړه له زیات درېبدو وچاودی

د پړانګ زړه هم درېبیږي، خو له سترګو یې وینې نه راځي

ځنګه یې ښه ویلي دي:

( یو به مړ نه سي، بل موړ نه سي )

٢٠١٤ -٠١ ـــ ٢٦ یکشنبه
کندهار، نوی ښار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ